# د افغانستان په یوې لویدیځې ولسوالۍ کې د بیارغاونې د هیلو مړاوې کېدل

**Author:** Shahpoor Saber

ځایي اوسیدونکي وایي د ژمنو د نه ترسره کېدو له امله د خلکو له خوابدۍ څخه مخالفینو ته ګټه رسیږي.

**په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریال، شاهپور صابر لیکنه**

**د افغانستان د لویدیځې ولسوالۍ اوسیدونکي وایي د وضعې د بېثباتۍ خطر موجود دی، ځکه دوه کاله دمخه د ځایي جنګ سالارانو د له منځه وړلو وروسته شوې ژمنې لا تر اوسه تر سره شوې نه دي.**

**زیات شمېر خلک وایي طالبان د هرات ولایت د ګذرې ولسوالۍ ته د ځایي اوسیدونکو د هغه خپګان له امله د  راستنیدو په لاره کې دي، چې لامل یې د نړیوالې ټولنې پاتې راتګ بلل شوی.**

**د ګذرې په ولسوالې کې د طالبانو د راغونډېدلو ادعاوې د هرات ښار پر هوایي ډګر د فبرورۍ په میاشت کې  د راکټي بریدونو له امله لا پسې پخې شوې، چې د ناتو تر مشرۍ لاندې د نړیوالو سوله ساتو ځوکونو مرکز ته څېرمه پروت دی.**

**د سیاوشان د کلي اوسیدونکي، حبیب الله وویل، یاغیان د ګذرې (ولسوالۍ) په ځینو ګاونډیو سیمو کې، په تېره بیا د شپې له خوا، ګرځي راګرځي.**

**هغه وویل: «ددې کار لامل د حکومت او د بهرنیانو اشتباګانې دي، چې یاغیان (مخالفین) بیا په سیمه کې راپیداکیږي.  که چېرته هغوی لازم امنیت تامین کړی وای  او د خلکو د ګټې لپاره یې کار کړی وای، نو ولس به له حکومت سره همکار وای. د مخالفینو شتون دا ښیي چې خلک له حکومت څخه پوزې ته راغلي دي.»**

**د ګذرې ولسوالي تر ۲۰۰۹ کال پورې د غلام یحیی اکبري په نامه د ملېشو د یو پیاوړي قوماندان تر ولکې لاندې وه. اکبري، چې یو مهال  د هرات د پخواني والي اسمعیل خان پلوي و، د مخالفینو له ډلې سره یوځای شو او ګذره یې د بریدونو، برمتو او غلاوو له لارې په یوې ناامنې  سیمې بدله کړه.**

**اکبري او د هغه ۲۲ تنه پلویان  د ۲۰۰۹ کال په اکتوبر کې دایساف او افغان سرتیرو په یو عملیات کې سیاوشان ته نژدې ووژل شو.**

**سیمې ته د ټیکاو او ثبات په راتګ ځایي خلک د بیارغاونې نوو پروژو او د نړیوالې ټولنې نورو مرستو ته سترګې په لار وو. (وګورئ: د هرات ازادې شوې ولسوالۍ کې نوي ژوند.)**

**هغوی وایي ، دایساف د تر مشرې لاندې د ایټالیې د پوځي او ملکي ګډو ځواکونو د ولایتي د بیارغاونې ډلې له هغوی سره د سړکونو، پلونو، بندونو، ځاګانو او ښوونځیو د جوړولو ژمنه کړې وه.**

**د هغوی په وینا تر دې دمه په سیاوشانو کې یوازې  درې کوچنی پلونه او د**

یو ښوونځي دیوالونه جوړ شوي دي.

د عبدالستار په نامه یو کلیوال، چې سیاوشان ته د تللي خراب سړک  په غاړې ناست و، وویل: «هغوی ټولو موږ وغولولو.  د اکبري له وژل کیدو وروسته بهرنیانو وویل، چې دا سړک به پوخ کړي. دا (سړک) یې جوړ نه کړ. په ګزمو یې لا پسې خراب کړ. له دوړو ډک دا خام سړک په سیاوشانو کې د ژوند بېلګه ده. دا جوتوي چې حکومت او بهرنیانو دلته په تېرو لسو کلونو کې د خلکو لپاره هیڅ هم نه دي کړي.»

داسې انګیرنې د مرکزي حکومت او د هغې د نړیوالو انډیوالانو په وړاندې دښمني راپاروي. یاغیان دا کار له خدایه غواړي.

د غلام صدیق په نامه یو بل کلیوال وویل: «هغوی [طالبان] تل خلکو ته د حکومت او بهرنیانو درواغ بیانوي  خلک اوس د مخالفینو په خبره باور کوي. تر کومه ځایه چې ماته څرګنده ده، خلک اوس [د] مخالفینو [پلو] ته زړه ښه کوي.»

د سیاوشان د کلي مشر، شاه احمد خان وویل، د اکبري یو زوی هلې ځلې پیل کړی چې ځایي یاغیان راوښوروي. هغه زیاته کړه: «دلته د مخالفینو له شتون څوک سترګې نشي پټولای.»

د ګذرې په ولسوال کې د سمیع الله سلحشور په نامه د یاغیانو یو قوماندان آی ډبلیو پي آر ته وویل، د هغه ډلې د هغه په وینا د «ګوډاګي حکومت»  په وړاندې تبلیغاتي جګړه ګټي.

هغه وویل: «بهرنیانو په افغانستان کې ماتې خوړلې ده. زموږ وسله وال انډیوالان د روان پسرلي په اوږدو کې پر هغوی د بریدونوو تیاری نیسي.»

ژورنالست او سیاسي شنونکي، فریدون آژند وویل، هغه مهال چې نړیواله ټولنه د خپلو ژمنو په سرته نه رسولو وپوهیده، له دې امله «یې بنسټپالو ته د تبلیغاتو زمینه برابره کړه چې د نړیوالې ټولنې د دوه ګوني چلن په اړه تبلیغات پیل کړی، په دې توګه زیات جنګیالي جذب کړی، نوې جبهې پرانیزي او جګړه نوره هم توده کړي.»

په پارلمان کې د هرات ولایت استازی، محمد رفیق شهیر د مرستو او بیارغاونې په اړه د کړو ژمنو د سرته رسولو پر اهمیت ټینګار کوي.

هغه زیاته کړه: «له دې پرته به خلک په [موسسو] خپل باور له لاسه ورکړي او په پای کې به یې له نړیوالې ټولنې او افغان حکومت سره واټن زیات شي.»

آی ډبلیو پي آر د ولایتي بیا رغاونې ایټالیوي ډلې مشر، ډګروال انتونیو انتوري ته تر دې دمه د شوو مرستو په اړه اندیښنه په ډاګه کړه.

انتوري وویل، یو شمېر پلونه او ښوونځي جوړ شوي، خو د سیاوشانو د سړکونو د پخولو په څېر لویې پروژې زیات کار او وخت غواړي.

هغه وویل: «دوو کلونو ته په پام سړی ویلی شي چې د (سړک د پخولو) کار ډېرې مودې ته اړتیا لري. نړیوالې ټولنې هیڅکله هم دا پروژه نه ده هېره

کړي.»

Pakistan **:Location**
Afghanistan
Conflict resolution **:Topic**

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%BE%D9%87-%D9%8A%D9%88%DB%90-%D9%84%D9%88%D9%8A%D8%AF%D9%8A%DA%81%DB%90-%D9%88%D9%84%D8%B3%D9%88%D8%A7%D9%84%DB%8D-%DA%A9%DB%90-%D8%AF